ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



# ""د رنګونو درياب"" کښې صنعتونه : يو څېړنيز جاج

Tropological Elements in " *Da Rangunu Daryab* ": An Exploratory Study

**ډاکټر شهاب الدين 1**

ليکچرر گورنمنټ ډ گري کالج جوړ بونير

**ډاکټر بادشاه روم 2**

ايسوسي ايټ پروفيسر

شعبه پشتو يونيورسټي آف ملاکنډ

## Abstract

*This research article explores the significant contribution of Dr. Ali Khail Daryab to modern Pashto ghazal, focusing on his innovative incorporation of tropological elements. His recently published poetry collection, Da Rangunu Daryab (The River of Colors), stands as a testament to his mastery of thought and artistic expression. The study meticulously examines the rich use of metaphor, symbolism, allegory, and other rhetorical devices that define the modern Pashto ghazal's aesthetic landscape within this collection. Through detailed analysis, the article highlights how Dr. Daryab's work revitalizes traditional poetic forms while infusing them with contemporary themes and stylistic features. The findings aim to provide valuable insights for students and researchers in Pashto literature, offering a comprehensive understanding of the evolving dynamics of Pashto ghazal under Dr. Daryab's artistic vision.*

"د رنګونو درياب" د استاد محترم ډاکټر علي خېل درياب د غزليه شاعرۍ نهم شعري تخليق دے. چې د معنوي او لفظي ښکلا له رويه دا شعري ټولګه د بلها صنعتونو نه برجته شاعري لري. صنعت په لغوي معنيو د هنر، کاريګرۍ، کسب او هنرمندۍ دپاره استعمالېږي. خوپه ادبي اصطلاح کښې صنعت د شعر د معنوي او لفظي ارزښت زياتولو دپاره د صنائع بدائع پکاروني ته وائي . سره ددې چې په شاعرۍ کښې د صنعتونو استعمال په شعوري توګه ډېر ګران کار دے. ځکه چې د دې له پاره ډېره پوهه، زده کړه او مطالعه پکار وي. خو د الهامي او فطري شاعرانو دپاره دا مشکل په دې نه وي چې د هغوي په کلام د صنعتونو استعمال په غېر شعوري توګه خود بخود راځي . د صنائع بدائع سره په کلام کښې د مطالبو او

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



معاني نه علاوه رنګیني، خوند او ښکلا هم پیدا کیږي. د دې په باره کښې د خالقداد په نظم ګویۍ فني او فکري مطالعه کښې مقاله نګار داسې لیکلي .

"د کلام د حسن او ښائست سېوا کولو له پاره د صنائعو بدائیو استعمال کیږي. که دغه استعمال په کلام کښې بغېر د قصده او بې تکلفۍ نه راشي نو هغه ښه وي او د ستائني وړ وي. او که چرې داسې اونه شي نو د کلام خوند خرابېږي. د دې صنائیو بدائیو د استعمال خاصیت په هر هغه شاعر کښې موجود وي چې مطاله ئې وسیع او مشاهده ئې ژوره وي او هم د پخوانو او کلاسیکي شاعرانو کلام ئې ښه لوستې وي."[1]

صنعتونه په دوه توګه وي. لفظي صنعتونه او معنوي صنعتونه. د وړومبي قسم صنعتونو په استعمال سره په لفظونو کښې د لفاظۍ په اعتبار خوند پېدا کیږي او دویم قسم صنعتونو ټکارونه په شعر کښې د معنو په اساس ارزښت رادوڅاروي او خوږوالے پیدا کوي. ډاکټر علي خېل درياب چې کوم لفظي صنعتونه ټکارولي دي په هغې کښې تجنیس تام، تجنیس زاهد ، تجنیس ناقص، تجنیس خطي، تجنیس لاحق، تجنیس مضارع، تجنیس مرفوع، صنعت تصلیف، صنعت تکریر مطلق، صنعت تکریر مثني او ځیني نور هم شامل دي.

او په معنوي صنعتونو کښې ئې د لف ونشر مرتب، لف ونشر غېر مرتب، صنعت تضاد ، صنعت جمع، صنعت حسن تعلیل، صنعت ابهام، صنعت ارصاد ، صنعت ایراد المثل او صنعت مراۃ النظیر او ځینې نور ډېر ښکلي انداز کښې راوړي دي.

دغه دواړه قسمه صنعتونه شعوري او لاشعوري دواړه توګه په کلام کښې راغلے کړے شوي دي. خو کوم صنعتونه چې په بې تکلفۍ او غېر ارادي طور سره خوندي شوي دي. هغه ډېر خوندور دي. د کلام خوند او اثر ئې هم ښکلے کړے دے

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



بل دا چې د فکر خیال معانیو ته ئې نقصان نه دے رسېدلے. " دلته د رنګونو دریاب" شعري مجموعې کښې د لفظي صنعتونو استعمال سنجولې شي. چې د دغه کتاب د لفظي ښائیست ترې راډاګې ته شي.

## صنعت تجنیس:

هسې خو د تجنیس صنعت ډېر قسمونه دي خو چې کوم ډاکټر دریاب په کلام کښې راڅاے کړي دي په هغې کښې ځینې مشهور دا دي.

## صنعت تجنیس تام:

په کلام کښې دوه داسې لفظونه راوړل چې په وېنا او لیک کښې هو هو یو شان وي خو معنی ئې بېله بېله وي. دغسې لفظونو ته متجانسین وئیلے شي. لکه دا شعرونه وسنجوئ. لکه لېلی لېلی، کومه کومه، تور تور، مال مال او رنګ رنګ.

"لېلی جانې مونږ ته نه شي رسېدلے
که لېلی مجنون د قبر نه هم راشي"[2]

"دریابه چا چا ته به کومه کومه قیصه
د زمانې د درد قیصې دي هډو نه ختمیږي"[3]

"ستا دي لامحدوده رنګینۍ د رنګ
ځکه دې ستائینه خو رنګ رنګ کوو"[4]

"تصور چې دې د تورو سترګو تور نه کړم
بیا خو دې په تورو سترګو تور ښه یم"[5]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



"تاو چې د ښکلو د سرونو نه شي
دغسې مال په مال کښې نه راولم"[6]

## تجنيس زاهد:

په کلام شعر کښې داسې دوه ټکي راوړل چې حرکات ئې يو شان وي خو حرف يا حروف پکښې سېوا وي. دغه زياتې د شعر د مصرعې په سر، مينځ او اخر کښې هم کېدې شي لکه دا شعرونه چې پکښې حال حلال، پورې راپورې کول ورکول راغلي دي.

"څه تپوس کوې چې څنګ په څه حال يم
بس خو ستا په تفافل حلال حلال يم"[7]

"د ټټر نه مې اوځي پورې راپورې
د نظر د سنګينونو سره مخ يم"[8]

"بل له مينه ورکول مينه کول هم
زه ګڼمه اصل روح د عبادت دے"[9]

## تجنيس لاحق:

په کلام يا تخليق کښې دوه داسې لفظونه راځاے کول چې د حرفونو تعداد ئې برابر وي خو يو حرف پکښې مختلف وي. لکه جرګې، جرګو، وختونه، وختونو، سړه مړه، توبو توبه، مړې کړې او داسې نور.

"اوس خو جرګې د يو سړي د پاره
اوس خو د کلي د جرګو پاتي يم"[10]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



"دا وختونه لږ په مخه باندې واخله
دې وختونو له خو ساه لږه بې ساه کړه"[11]

"مونږ ته د وختونو سترګې خړې دي
مونږ لکه چې مړې ترې نه کړې دي"[12]

"د بلها عمرونو تنده مې سړه شوه
مهربانه مې په ژوند يوه مړه شوه"[13]

"زه توبه د هر څه نه کولې شم خو
ستا نه مې توبو ته قسم کړے دے"[14]

## تجنيس خطي:

داسې دوه ټکي په شعر کښې راوړل چې رسم الخط ئې هو بهو يو شان وي خو د نقطو يا اعرابو توپير لري. نام بام، بوټے نوے، رنګ ړنګ.

"د زړګي خونه مې ړنګ کړه بيا به څې
لاس زما په وينو رنګ کړه بيا به ځې"[15]

"ما ته هغه وائي چې ته شاعري ځنګه کوې
زۀ ويمه ته چې د ښکلا ساحري څنګه کوې"[16]

"څار ئې د نوخېزه پېغلتوبه شمه
سم د انار بوټے نوے بار کوي"[17]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



## تجنیس مضارع:

داسې دوه لفظونه راوړل چې د حرفونو تعداد ئې برابر وي. خو صرف يو حرف پکښې مختلف وي او په تلفظ کښې هم يو بل ته نزدې وي لکه جوړ موړ رنګه بنګه جنګ ننګ.

"اوس به د حالاتو سره جنګ کوو
اوس به خامخا په مينه ننګ کوو"[18]

"ته چې راشې زمانه ده جادوګره
مخ نيوې د جادوګرې به کوو"[19]

"دريابه هسې نه رسوا شې نازولې مينه
غبږ ته راځې مې ړنګه بنګه جينۍ نه سميږې"[20]

## تجنیس مطرف:

دوه داسې ټکي په شعر کښې راوستل چې په اخره کښې يو حرف زيات وي لکه مال، مالا، غل غلا.

"زه ګورې په دې حقله غني يمه
زه له محبته مالا مال يمه"[21]

"غلا د سکون رانه هم تا کړې ده
بل خو زما نظر کښې غل نشته"[22]

## صنعت تضمین المزدوج:

په يوه مصرعه کښې دوه هم وزن يا هم قافيه الفاظ غبرګ راوړل لکه په دويمه مصرعه کښې رقيبان او حاسدان په يو ځائے کښې راغلي دي.

"ستا د مينې د نسبت له نومه ځار شم
په ما ګران دي رقيبان که حاسدان دي"[23]

## صنعت ذوالقافيتين:

په شعر کښې دوه غبرګې قافيې راوړل لکه په دې شعر کښې جدائي او زندګي او اضطراب او عذاب دوه غبرګې قافيې راغلي دي.

"جدائي د اضطراب نه عبارت ده
زندګي ئې د عذاب نه عبارت ده"[24]

يا په دې شعر کښې دې او مې. زړۀ او زۀ او خيال او حال درې غبرګې قافيې راغلي دي.

"اوس به دې زۀ په خيال کښې نه راولم
اوس به مې زړۀ په حال کښې نه راولم"[25]

## صنعت منقوطه:

په شعر کښې داسې ټکي راوړل چې په ټولو لفظونو باندې نقطې وي. مطلب چې بغير نقطو والا يو لفظ به هم نه وي.

"زۀ خو چې تلمه په دردونو کښې ګنډلې تلمه
ته خو سينګار وې په رنګونو کښې تياره لاړې"[26]

"دې سپوږمۍ ته به مې ستا قيصې کولې
دغه ستوري په مونږ دواړو ګواهان دي"[27]

## رد العجز علي الصدر مع تکرار:

د دویمې مصرعې اخره کښې کوم ټکے راشي هغه دې د وړومبۍ مصرعې په سر کښې هم وي. لکه ډوب، به او احسان لفظونه اوګورئ.

"ګلو کښې ډوب شوې په رنګونو کښې ډوب شوے یمه
نن خو دې د یاد په نکهتونو کښې ډوب شوے یم"[28]

"ته احسان په ما د شاعرۍ کوې
دا نه چې په تا باندې احسان کووم"[29]

"زه به دې د حسن د غرور د زور نشه ماتووم
اوس کۀ هر څه ګوابښ کوې ګوابښده جانه ګورو به"[30]

## صنعت رد العجز علي العشو مع تکرار:

د دویمې مصرعې په اخره کښې راغلے ټکے به د اولنۍ یا دویمه مصره په مېنځ کښې وي. لکه ټال لفظ اوګورئ.

"ما ئې د ټال پړې نیولې دې خو
هغه په شا باندې په ټال اوړې"[31]

## صنعت رد العجز علي الابتدا مع تکرار:

د دویمې مصرعې په اخره کښې کوم ټکے وي دغه ټکے به د دغسې دویمې مصرعې په سر کښې هم وي. لکه راځم، سبا او دے ټکي ډیر ښکلي استعمال شوي دي.

"زه د مایوسۍ په دام کښې نه راځم
نه راځم د وخت په سام کښې نه راځم"[32]

"د ګل مخو د لوظونو سبا څه وي
په سبا سبا کښې یو عمر سبا شي"[33]

"ستا د لیوني علاج خو وصل دے
دے خو ستا هجران لیونے کړے دے"[34]

## صنعت قطار البعیر:

دویمې مصرعې ورومبي لفظ د اولنې مصرعې په اخره کښې راشي. لکه مینه، لیلی، راځم او ښبنمه لفظونو استعمال کتلے شئ.

"ته د بې قدرو سره مینه کوې
مینه کوه چرته د سیال خو ګوره"[35]

"دا درياب دے حلول شوې په لیلی کښې
که لیلی ئې د درياب نه عبارت ده"[36]

"زه د مایوسۍ په دام کښې نه راځم
نه راځم د وخت په سام کښې نه راځم"[37]

"ستا د سترګو شرابو نه به ښبنمه
ځکه نه ښبنمه د سرو زرو په جام کښې"[38]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL (JALT)
Vol.8. No.1 2025

## صنعت سجع مطرف:

داسې دوه لفظونه راوړل چې دواړه قافیه وي خو وزن ئې برابر نه وي. لکه بورجلونو او یادونو یا زړۀ او ژوندانۀ.

"نن دې بیا په بورجلونو باندې راغلم
په زړو زړو یادونو باندې راغلم"[39]

"زۀ به دې د زړۀ نه خنګه اوباسم
تا د ژوندانه نه خنګه اوباسم"[40]

## سجع متوازي:

د قافيې لفظونه په تعداد وزن او روي کښې برابر وي لکه اور شور یا لاره یاره.

"سیزي مې د چا د یادو اور په تنهایۍ کښې دے
مړ به مې کړي دا لا خومره شور په تنهایۍ کښې دے"[41]

"زه چې پرې نن تلمه ته هم په هاغه لاره لاړې
محسوسول دې څه او خنګه یاره لاړې"[42]

## صنعت مقلوب مستوي:

داسې ټکي راوړل چې د دواړو ډډو نه یو شان لوستلے شي. لکه نن، وړو، کلک، ادا، درد.

"اوس خو ارتباط د سره نه کوي
کلک دې رابطو ته قسم کړے دے"[43]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



"ستا د یاد درد خو وژلم
یاره دغه درد خو کم شو"[44]

"نن سبا کښې به هغه راځي دریابه
نن سبا خو نن سبا مې وظیفه ده"[45]

"ستا خو تهذیب د هر انداز هرې ادا نه ښاځي
لېلی دا ولې د شوخۍ د حد نه ووتلې"[46]

"بیا جوړې دریاب په دې کوڅه راځي
بیا چې د وړو په لاس کښې ترې دي"[47]

## صنعت تلمیح:

په شعر کښې څه زړې تاریخي پېښې حادثې یا واقعې ته اشاره کول لکه د لېلی مجنون قیصه په دې دوو شعرونو کښې اوګورئ.

"ته که لېلی جانې بې بدله ئې
زه مجنون د دهر لاثاني یمه"[48]

"لېلی جانې مونږ ته نه شي رسېدلے
که لېلی مجنون د قبر نه هم راشي"[49]

## صنعت تصلیف:

په شعر کښې خپل ځان ته خپل شعر ته خپل کلام ته ډېره لافه کول. دې ته شاعرانه تعلي هم وائي. لکه دا شعرونه اوګورئ.

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT

JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL (JALT)

Vol.8. No.1 2025

"په غزل دې حد تمام کړلو دریابه
نقادانو دې سر اونیول اسلوب ته"[50]

"دریابه ستا په کهول کښې چا سره هم
جواب بیخي ستا د غزل نشته"[51]

"چې تللې شاعران شو د دې عصر
زه دریاب پکښې د ډېرو ډېرو ښه ووم"[52]

## صنعت تکریر مطلق:

په شعر کښې که په هره مصرعه کښې وي خو دوه لفظونه په یو ځائے استعمال لکه په وړومبي شعر کښې طمع طمع بل شعر کښې ژور ژور لفظونه اوګورئ.

"په طمع طمع د وصال اوړي
یوه لمحه لکه د کال اوړي"[53]

"اوس راته احساس د خپل وجود د سره کیږي نه
داسې په ژور ژور سوچونو کښې ډوب شوې یم"[54]

## صنعت تکریر مثنی:

په شعر کښې په یوه مصرعه کښې دوه لفظونه غبرګ راوړل لکه ماښے ماښے او ګیله ګیله یا ګهړۍ ګهړۍ او لمحه لمحه.

"ماښے ماښے ګیله ګیله ده مینه
د خفګانونو سلسله ده مینه"[55]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



"ګهړۍ ګهړۍ لمحه لمحه شمارمه
زه دې راتلو ته ورځ او شپه شمارمه"[56]

## صنعت تکرير مع الوساط:

په شعر کښې داسې دوه غبرګ ټکي راوړل چې په مېنځ کښې ئې د واسطي ټکي يا ټکے راغلے وي. لکه ګام په ګام او ګهړۍ په ګهړۍ.

"دا يو خوي د پښتنو ئې زما خوښ دے
تصور دې راسره دے ګام په ګام کښې"[57]

"دا ځل مې ستا لارې څارلې دي ګړۍ په ګړۍ
دا ځلې ما بيخي په ورۀ ورۀ کښې اختر کړے دے"[58]

## صنعت تکرير مشبه:

په يوه مصرعه کښې هم غبرګ ټکي راوړل او بله مصرعه کښې هم غبرګ ټکي راوړل لکه اوله مصرعه کښې تازه تازه او بله مصرعه کښې هم تازه تازه دغه شان په بل شعر کښې وړو وړو او خوږې خوږې.

"تا تازه تازه لوظونه قتل کړي
د تازه تازه لاشونو سره مخ يم"[59]

"ځار دې د وړو وړو خبرو شم
واه خومره خوږې خوږې دي ګوړې دي"[60]

## صنعت تکرير کثرت:

دا يو داسې صنعت دے چې درياب په دې کتاب کښې راوړے دے. خو ډېرو کمترو شاعرانو استعمال کړے دے په يو شعر کښې درې ټکي غبرګ غبرګ راوړل

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



یو نوے صنعت دے لکه دا شعر. چې پکښې مات مات ټوټې ټوټې او ذره ذره ټکي په یوه مصرعه کښې راغلي دي.

"میني مات مات ټوټې ټوټې ذره ذره کړم
په حادثه کښې حادثې دي هډو نه ختمیږي"[61]

دا صنعت عبدالرحیم روغاني بابا هم ډېر ښکلے او موثر استعمال کړے دے لکه په دې شعر کښې ساده ساده وړې وړې ګبین ګبین عقلونه غبرګ راغلي دي.

"ساده ساده وړې وړې ګبین ګبین خبرې
څومره په زړهٔ لګي خوږې د نازنین خبرې"[62]

یا دغه صنعت دریاب په "بهیر د جمال" کښې هم ډېر زبردست راوړے دے چې پکښې هله هله زر زر او شابه شابه ټکي غبرګ راغلي دي شعر وګورئ.

"د کاږهٔ اوربل شمال راباندې اوکړه
هله هله کړه زر زر کړه شابه شابه"[63]

## معنوي صنعتونه:

په معنی مفهوم او وضاحت کښې اثر پېدا کولو له پاره صنعتونو پکارولي شي. په دې کښې ځینې مشهور صنعتونه دا دي کوم چې "د رنګونو په دریاب" کښې راوړلے شوي دي.

## صنعت تضاد:

په شعر کښې داسې دوه لفظونه راوړل چې د یو بل متضاد وي لکه نفرت، محبت، خزان، سپرلے، سوال جواب، وصل او هجران او داسې نور.

"په نفرتونو ئې ایمان راوړے
د محبتونو نه منکر خلق دي"[64]

"ته چې راغلې په خزان کښې
د سپرلي غوندې موسم شو"[65]

"دا په سترګو کښې زما کوم سوالات دي
ستا په سترګو کښې ئې واړه جوابات دي"[66]

"ستا د لیوني علاج خو وصل دے
دے خو ستا هجران لیونے کړے دے"[67]

## صنعت ارصاد:

داسې لفظونه یا الفاظ راوړل چې په دې خبره دلالت کوي چې قافیه به داسې وي یا به داسې راځي لکه څنګه چې دلته د ورځ ذکر وشو نو پته ولګېده چې قافیه به شپه شمارمه وي.

"ګړۍ ګړۍ لمحه لمحه شمارمه
زه دې راتلو ته ورځ او شپه شمارمه"[68]

یا دا شعر چې د محبت نعم ټکے راغےنو بدل ارو مرو قافیه شوه ولې چې نعم او بدل تړلې شوي دي.

"په دې کښې نور څه د وئیل نشته
د محبت نعم البدل نشته"[69]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



## صنعت لف ونشر مرتب وغیر مرتب:

په شعر کښې په اوله مصرعه کښې دوه داسې کارونه یا څیزونه ذکر کول چې په دویمه مصرعه کښې ئې ورسره سمون والا کارونه راشي که په ترتیب وي نو مرتب او که په ترتیب نه وي نو غیر مرتب وي لکه دا شعرونه په وړومبي شعر کښې بام او مابنام او دویمه مصرعه کښې اسمان او سپوږمۍ راغلي دي نو دا مرتب دے.

"هغه بام هاغه مابنام دے ورته ګورم
اسمان هغه دے سپوږمۍورپکښې نشته"[70]

په دې شعر کښې غر او سمه او ورسره د کلي او ښار ذکر راغلے دے.

"ته چرته ئې په غرونو په سمونو کښې دې ګورم
په کلیو کښې دې ګورم په ښارونو کښې دې ګورم"[71]

دلته په یوه مصرعه کښې د تلے او تندے او ورسره لر او بر ذکر راغلے دے.

"ستا تلے او ستا تندے به ښکلوومه
ما ته لر دے ما ته بر دے راپغاړه"[72]

## صنعت مراة النظیر:

د یو څیز سره نور نسبت لرونکي څیزونو ذکر کول.

"پوښتنې دې کوومه تپوسونه د هر چا نه
په لارو په کوڅو په ګودرونو کښې دې ګورم"[73]

"تحقیق تنقید تخلیق د کور او د بهر کارونه
دریابه ځار شمه دا دومره خواري څنګه کوې"[74]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



## صنعت حسن تعلیل:

په شعر کښې د يوې خبرې داسې وجه بيانول چې هغه دروغ وي يا داسې سبب په کلام کښې ځايول چې په حقيقت کښې هغسې نه وي. د چا د زلفو راخورولو په وجه تياره نه راځي خو دلته ئې ورله دغه وجه نيولې ده.

"زلفې راخورې کړه چې اوده شمه
ياره چې خوبونه په تياره کيږي"[75]

د چا په تللو باندې تياره او د چا په ايساريدو سحر کيدل هم نشي کيدلې خو دلته ئې ورله دغه نسبت ورکړے دے.

"ته چې تللې د بېلتون د شپې تيارې وې
ته چې پاتې شوې سحر دې د وصال کړو"[76]

دغه رنګ د چا په زلفو خورولو وريځې نه راځي او نه د چا په خندلو د ګلونو باران کيږي خو دغه وجه ئې ورله بيان کړې ده.

"ته چې زلفې راخورې کړې شي وريځې
ته چې اوخاندې د سرو ګلو باران شي"[77]

## صنعت ايهام:

په کلام کښې داسې لفظ راوړل چې يوه معنى ئې قريبه وي بله بعيده وي. د شعر کتونکي يا اوريدونکي ګمان ترې نزدې معنى وي او د شاعر ترې لرې معنى مقصد وي. لکه دلته د سل معنى سود او پيرزوئنه ده خو سل په معنى د روپو او پيسو هم راځي

"ما په مینه کښې رانغاړې یاره
زما په لړه مینه سل نشته"[78]

سمه په معنې د هموار او مسطح راځي خو دلته ترې شاعر درسته خبره مطلب اخستې دے.

"سمه په غاښو دې راوکنله
تا خو زما په زنه اور ولګوو"[79]

## صنعت جمع:

په یو شعر کښې په یوه یا دواړو مصرعو کښې ډېر څیزونه ذکر کول صنعت جمع بللے شي. لکه دا شعرونه وګورئ چې پکښې رنګونه، ګلونه، خوشبو او ګل کڅونو ذکر راغلے دے.

"نه رنګونه نه ګلونه نه خوشبو وه
بس په سرو ګل کڅونو باندې راغلم"[80]

دلته د ډېرو کارونو ذکر په یو ځاے شوے دے.

"تحقیق تنقید تخلیق د کور او د بهر کارونه
دریابه ځار شمه دا دومره خوارې څنګه کوې"[81]

دلته د بورجل، کوټې، لارې د بلها ځایونو ذکر په یو ځائے راغلے دے.

"بورجلونه کوټې هاغه لارې هاغه
خو اثار د خوشحالۍ ورپکښې نشته"[82]

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



## صنعت ارسال المثل:

دې ته ایراد المثل هم وائي. په شعر کښې متل راوړلو ته صنعت ارسال المثل وئیلے شي لکه.

"ما او جانان ورته سم چا په نخښه کړي یو چې
خدایه دا څنګه المیې دي هډو نه ختمیږي"[83]

"وخته ستا د هرې ناروا مقابله کووم
سترګه مې نه سوزي په ایمان له تا نه ګورو به"[84]

## صنعت واسع الشفتین:

داسې شعر لیکل چې په وئیلو سره دواړه شونډې په خپلو کښې د یو بل سره نه جنګیږي. لکه دا شعر.

"د هر نظر نه دې غزلې څاڅي
ده ستا د حسن تلاوت شاعري"[85]

ددې پورته څېړنیز جاج نه دا خبره جوتیږي چې ډاکټر علي خېل دریاب پخپله تازه غزلیه مجموعه " د رنګونو دریاب " کښې ځاے په ځاے صنعتونه پکار راویستي دي . څه که هم ددغه بدیعي هنر استعمال تر ډېره حده غېر ارادي او الهامي دے . خو دا د موصوف په شاعرانه فن د لاس برې دلالت هم کوي . چې هغه د صنعتونو دغه استعمال څومره په ځاے او برمحل کړې دے . او دغې فني ګرفت د هغه غزل ته یو شمېر ځانګړنې بخښلې دي چې د ډاکټر علي خېل دریاب غزل ته ئې لفظي وقعت سره سره معنوي ارزښت او قېمت هم ورکړې دے .

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT



# حوالې

[1] داود خېل، شهاب الدين، د سيد خالقداد اميد د نظم ګوئۍ فني او فکري مطالعه، د ايم فل تحقيقي مقاله، علامه اقبال اوپن يونيورسټي، اسلام اباد، ناچاپ، کال 2020-2016، مخ 205

[2] درياب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو درياب، سوات، ګران خپرندويه ټولنه، 2024، اکتوبر، مخ 227

[3] همدغه اثر، مخ 185

[4] همدغه اثر، مخ 499

[5] همدغه اثر، مخ 214

[6] همدغه اثر، مخ 113

[7] همدغه اثر، مخ 92

[8] همدغه اثر، مخ 139

[9] همدغه اثر، مخ 229

[10] همدغه اثر، مخ 45

[11] همدغه اثر، مخ 225

[12] همدغه اثر، مخ 196

[13] همدغه اثر، مخ 200

[14] همدغه اثر، مخ 118

[15] همدغه اثر، مخ 180

[16] همدغه اثر، مخ 178

[17] همدغه اثر، مخ 167

[18] همدغه اثر، مخ 198

[19] همدغه اثر، مخ 149

[20] همدغه اثر، مخ 257

[21] همدغه اثر، مخ 220

[22] همدغه اثر، مخ 107

[23] همدغه اثر، مخ 72

[24] همدغه اثر، مخ 40

[25] همدغه اثر، مخ 112

[26] همدغه اثر، مخ 56

[27] همدغه اثر، مخ 72

[28] همدغه اثر، مخ 62

[29] همدغه اثر، مخ 190

[30] همدغه اثر، مخ 117

[31] همدغه اثر، مخ 42
[32] همدغه اثر، مخ 114
[33] همدغه اثر، مخ 226
[34] همدغه اثر، مخ 264
[35] همدغه اثر، مخ 47
[36] همدغه اثر، مخ 41
[37] همدغه اثر، مخ 114
[38] همدغه اثر، مخ 98
[39] همدغه اثر، مخ 54
[40] همدغه اثر، مخ 48
[41] همدغه اثر، مخ 60
[42] همدغه اثر، مخ 56
[43] همدغه اثر، مخ 119
[44] همدغه اثر، مخ 162
[45] همدغه اثر، مخ 151
[46] همدغه اثر، مخ 173
[47] همدغه اثر، مخ 197
[48] همدغه اثر، مخ 220
[49] همدغه اثر، مخ 227
[50] همدغه اثر، مخ 95
[51] همدغه اثر، مخ 107
[52] همدغه اثر، مخ 243
[53] همدغه اثر، مخ 42
[54] همدغه اثر، مخ 62
[55] همدغه اثر، مخ 108
[56] همدغه اثر، مخ 134
[57] همدغه اثر، مخ 99
[58] همدغه اثر، مخ 195
[59] همدغه اثر، مخ 139
[60] همدغه اثر، مخ 197
[61] همدغه اثر، مخ 184
[62] روغانے، عبدالرحیم، نوي نغمه، پېښور، عامر پرنټنګ ایجنسي، څلورم ځل، کال 2013، مخ 338
[63] دریاب، علي خېل، ډاکټر، بهیر د جمال، پېښور، اعراف پرنټرز، اول ځل، س ن، مخ 128

ISSN E: 2709-8273
ISSN P:2709-8265
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL
JALT
JOURNAL OF APPLIED LINGUISTICS AND TESOL (JALT)
Vol.8. No.1 2025

[64] دریاب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو دریاب ، مخ 141
[65] همدغه اثر، مخ 162
[66] همدغه اثر، مخ 186
[67] همدغه اثر، مخ 264
[68] همدغه اثر، مخ 134
[69] همدغه اثر، مخ 106
[70] همدغه اثر، مخ 111
[71] همدغه اثر، مخ 146
[72] همدغه اثر، مخ 101
[73] همدغه اثر، مخ 146
[74] همدغه اثر، مخ 179
[75] همدغه اثر، مخ 249
[76] همدغه اثر، مخ 241
[77] همدغه اثر، مخ 238
[78] همدغه اثر، مخ 107
[79] همدغه اثر، مخ 102
[80] همدغه اثر، مخ 55
[81] همدغه اثر، همدغه مخ
[82] همدغه اثر، مخ 110
[83] همدغه اثر، مخ 184
[84] همدغه اثر، مخ 116
[85] همدغه اثر، مخ 250